د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

## داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،

## علیم صدیق، د یوناما ویاند،

*کابل- دوشنبه د جولای د میاشتی اوه ویشتمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما د ټولټاکنو په اړه**

د اګست د میاشتی ۲۰ نیټی ته یوازی ۲۵ ورځی پاتی دي. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون موږ ته خبر راکړي چي د هیواد په بیلابیلو سیمو کي د رایه ورکولو زرګونو مرکزونو ته د ټاکنو د موادو د ویش لوژستیکی عملیات سم د وخت سره دوام لري. هغه ننګونی چي د ۱۷ملیونو د رایه ورکولو پاڼو او سل زره د رایه اچولو بکسونو د خوندي استولو په لاره کي پراتي دي، باید لرې و نه ګڼل شی، او د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د رایه ورکولو تر ورځی پوری د چارو د ښه تر سره کولو لپاره د بشپړ ستاینی مستحق دي.

په عین وخت کي موږ وینو چي کاندیدان د هیواد په ګوټ ګوټ کي په کمپاین بوخت دي، چي دا هڅوونکی ده. د افغانستان خلک د دغه انتخاب حق لري چي نه یوازي دا چي، څوک به هیواد رهبری کړي بلکی هغوي به افغانستان کومی خوا ته رهبري کړی. موږ د افغانستان د خلکو څخه غواړو چي د بیلابیلو کاندیدانو تګلاری ته په ځیر سره غوږ شي، او دوي ته بیا یادونه کوو چي دوي هر هغه کوښښ شنډ کړي چي غواړي د دوي اراده له منځه یوسی او دا ډول کوښښونه د ټولټاکنو چارواکو ته ورسوي. موږ د رایه ورکوونکو څخه غواړو چي په یاد ولري چي د رایه روکولو په روځ کي او کله چي دوي رایه ورکوي، هیڅ څوک به هلته نه وي. هغه څوک ته چي تاسی رایه ورکوئ هغه ستاسی او د رایه ورکولو د بکس په منځ کي دی. هیڅ څوک به پوه نه شي چي تاسی چاته رایه ورکړي دي. د خپل هیواد او کورنی لپاره رایه ورکړئ.

په پاي کي اجازه راکړئ چي یوه موضوع روښانه کړم، نړیواله ټولنه دلته ده چي د دغي پروسی ملاتړ وکړي نه دا چي د پایلی په اړه پریکړه وکړي. موږ به ستاسی د حق څخه دفاع کوو تر څو تاسی وکولای شئ پرته له ډار او ګواښ څخه انتخاب وکړی. په بدل کي موږ له کاندیدانو څخه غواړو چي په وقار او شفافیت سره کمپاین وکړي او د ټولو افغانانو څخه غواړو چي دغه پیغام خپور کړي چي د اګست په ۲۰ نیټه له کوره ووځئ او رایه ورکړئ.

**د جولای ۲۶ – ۲۸ نیټه په ټول هیواد کي د واکسیوناسیون کمپاین**

کابو ۸ ملیونه ماشومان به په ټول هیواد کي د پولیو د معافیت د کمپاین تر پوښښ لاندي راشي چي د عامی روغتیا وزارت، یونیسف او د روغتیا نړیوال سازمان له خوا پلی شی. دغه لړي به د ۵ کلونو څخه لږ عمر ماشومانو ته معافیت ورکړي. دغه کمپاین د یکشنبی په ورځ پیل شوی دی او د جولای تر ۲۸ نیټی پوری دوام وکړي. د پولیو مخکنی کمپاین چي د می په میاشت کي تر سره شو، ۷ عشاریه ۳ ملیونه ماشومان تر پوښښ لاندي راویستل.

**کابل به د پاکستان سره د دری اړخیزه کمیسیون د اولسمی غونډي کوربه وي.**

د افغانی مهاجرو مسله به د افغانستان د حکومت، پاکستان او د کډوالو په چارو کي د ملګرو ملتونو د عالی کمشنری ترمنځ د دري اړخیزه کمیسیون د ۱۷غونډي پر مهال سبا په کابل کي تر بحث لاندي ونیول شی. په دغه غونډه کي به عبدالکریم براهوي، د مهاجرو او کډوالو د چاور وزیر، د پولو د سیمو په چارو کي د پاکستان د دولت وزیر او د یو ان اچ سی آر لوړپوړي چارواکي ګډون ولري. په اجنډا کي به د دری اړخیزو موافقتنامی د نوي کولو د دوام خبری، او همدارنګه د افغانی مهاجرو د ثبتولو کار د ۳ نورو کلونو لپاره وغځول شی، هم شامل دي. نوری مسلی لکه د بیرته راستنیدونکو لپاره د ځمکو اختصاص ورکول، په ټولنو کي د بیرته راستنیدونکو بیا میشته کیدل او په سږ کال کي د خپلی خوښی د بیرته راستنیدنی مسلی هم تر بحث لاندي ونیول شی.

**د کرهنی وزارت، اروپایی اتحادیی او د ملګرو ملتونو د کرهنی او خوراک د سازمان په ذریعه د لوړ کیفیت د تخمونو د تولید نوي پروژه**

کروندګر به په ټول افغانستان کي د هغه پروژی څخه ګټه واخلی چي د کرهنی د وزارت په ذریعه پلی شوي او دغه پروژه اساسی غلو دانو لپاره د لوړ کیفیت تخمونه تولید او خرځ کړي. دغه پروژه چي په خپل لومړی پړاو کي دی، د اروپایی کمیسیون له خوا ملاتړ کیږی، لګښت یي ۱۴ملیونه یورو ده او د ملګرو ملتونو د کرهنی او خوراک د سازمان په واسطه به پلی شی.

په راتلونکي دوو کلونو کي به په ۱۲ولایتونو کي د نویو تخمونو د توزیع ۲۱ مرکزونه منځته راشی. د پروژی په فعالیتونو کي به د غنمو پرته، د تخمونو تولید، د سوداګری د مدیریت په هکله روزنه او د وسایلو رانیول

شامل وي. دغه ځانګړي نوښت د هغی پروژې سره به یو ځای کار وکړي چي لا له مخه یی په ۱۶ ولایتونو کې د نویو تخمونو د توزیع ۲۹ نوي مرکزونه ایجاد کړي دي. نور معلومات پر میز باندی دي.

**د آسیا پراختیایی بانک په افغانستان کې د ریل ګاډی د پروژو لپاره ۱۲۰ ملیونه امریکایی ډالره تایید کړ**

د آسیا پراختیایی بانک په افغانستان کې د ریل ګاډي د پراختیا لپاره ۱۲۰ ملیونه امریکایی ډالره د مرستی په ډول تایید کړی دی. دغه بانک د یو ملیون څخه زیات امریکایی ډالر د ریل ګاډي د لاری د امکان د څیړلو په پروژه ولګوي چي د مزار له لاري حیرتان( د ازبکستان سره په پوله کې واقع) د هرات ولایت سره نښلوي. بله څیړنه به لاری ته واچوله شوی چي د کندز له لاری شیرخان بندر (د تاجکستان سره په پوله کې واقع) د مزار شریف سره نښلوي. دغه مرسته چي د جون په میاشت کې پیل شوي دی به د دوو پړاونو په ترڅ کې د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې بشپړ شی.

**پوښتنې او ځوابونه**

**دآزادي راډیو:** زما پوښتنه له ښاغلی علیم څخه ده. لکه چي تاسو پوهیږئ په نوماندانو او د هغوي پر ملاتړو بریدونه دې میاشت کې د افغانستان په ځینو برخو کې زیات شوی دي، تاسو فکر نه کوئ چي دغه بریدونه به د اګست د ۲۰ نېټې ټاکنې په افغانستان کې اغیزمنې کړي؟

**یوناما، علیم صدیق:** ستاسي د پوښتنې څخه مننه. تاسو په مطبوعاتي کنفرانسونو کې زموږ څخه اوریدلي دي چي د سږ کال د ټاکنو امنیت څومره اهمیت لري. رایه ورکوونکي باید باور ولري څو وکړای شي چي پرته له ډاره او تهدید څخه په امن کې رایې ورکړي. او نوماندان باید د هیواد په کچه د دې امکان ولري چي افغاني ټولنو او کلیو ته ورسیږي څو خپلې هیلې او پروګرامونه د هیواد د راتلونکي په اړه ورسوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی د دې مهمي مسلې پر اهمیت ټینګار کړی دی او ټولو اړوندو او شاملو اړخونو ته یې چي د سږ کال ټاکنې سرته رسوي چي په هغو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، دولتي امنیتي ارګانونو او نړیوال وسله وال ځواکونو چي د ملاتړ دنده به ترسره کوي دا په ډاګه کړی ده.

یو ګډ ه د پلان جوړونې ډله رامنځته شوی ده چي هغه د افغاني امنیتي ځواکونو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ایساف، د افغانستان د امنیتي لیږد ( انتقال) ترکیبي قومانده او همدارنګه ملګري ملتونه په دې کې شامل دي.

دغه ډله اوس په امنیتی مسلو په تیره بیا د نوماندانو په سفرونو د حساسو انتخابي موادو د ویش په پلان کولو او همدارنګه په ولایتي کچه د عملیاتي قوماندې د مرکزونو جوړول چي هغه به د سږ کال د ټاکنو لپاره امنیت رامنځ ته کوي غور کوي.

د دغي ډلي له خوا د امنیتی وضعي ارزونه کیږي څو دا یقیني کړای شي چي موږ کولای شو د نوماندانو سره مرسته وکړو څو د انتخاباتي کمپاین په لړ کې خپلو رایه ورکوونکو ته ورسیږي او همدارنګه دا باوري شي چي د رایې ورکوونې ځایونه په امن کې دي. موږ د دغې مهمې دندې په لار کې ستونزې کمې نه ارزوو. ملګري ملتونه او د هغوي همکاران د ټاکنو په دغه پروسه کې شامل دي او دا څرګندوي چي دا په راتلونکو اونیو کې یو له کلیدي لومړیتوبونو څخه دی. له هغه ځایه چي دغه هلې ځلې رواني دي موږ له افغان وګړو څخه غواړو چي هغه کسان پرې نه ږدي څوک چي افغاني ټولنو ته تاوتریخوالی راوړي څو هغوي د دې امکان څخه بی برخی کړي چي په دې تاریخي ټاکنو کې برخه واخلي.

**د شمشاد تلویزیون:** یوه پوښتنه دا ده چي نوماندان او رایه ورکوونکي او هر څوک دا اندیښنه لري چي کیدلای شي په دې ټاکنو کې ډیره زیاته درغلي و شي. یوناما د یوې څارونکي موسسي په توګه څه فکر کوي، آیا دلته به درغلي وي او که څنګه؟

**یوناما، نظیف الله سالارزی:** ټل یو کوچنی اقلیت وګړي وي چي غواړي د خلکو د دموکراتیکی ارادې په وړاندې ورانکاري ولري. خو د دې سره سره ډیر زیات امنیتي تدابیر شته څو د ټاکنو اعتبار وساتل شي. د انتخاباتو د ترسره کولو د پروسې د نظارت لپاره به د هیواد په کچه په زرګونو نړیوال او کورني څارونکی خپاره شي. نوماندان او د هغوي استازی به هم د دې امکان ولري چي د رایو د شمیرنې څارنه وکړي او د

رایه ورکوونکو په ګوتو به نه پاکیدونکی رنګ لړول شي څو د دوه ځل رايي ورکوني مخنيوی وشي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د شکايتونو د اوريدو کميسيون او د رسنيو کميسيون به د ټاکنو د بهير څارنه کوي څو دا يقيني کړي چي هر ډول داسي هڅه چي د رايه ورکوونکو د تير ايستلو لپاره کيږي بايد په وخت تشخيص او داسي اقدام ترسره شي چي د هغه له مخي د ټاکنو د ريښتينولی او اصالت ساتنه وشي. د افغانستان خلک هم بايد خپله ونډه ترسره کړي او د هر ډول تخريبي داسي عمل چي غواړي د هغوي د دموکراتيکو حقونو په وړاندي خنډ شي، مخنيوی وکړي او د دغه ډول هڅو او تلاشونو په اړه افغان چارواکو ته پر وخت راپور ورکړي.

**طلوع تلويزيون:** لکه څنګه چي پوهيږو د ولايتي شوراګانو ټاکني د ولسمشريزو ټاکنو سره يو ځای ترسره کيږي. مګر داسي برېښي چي په ولسمشريزه ټاکنو باندي زيات زور اچول کيږي. خلک حتی نه پوهيږي چي د ولايتي ټاکنو لپاره څوک ولاړ دي. يوناما په دې باب څه فکر کوي؟

**يوناما، عليم صديق:** زه غواړم دغه پوښتنه بيرته خبري رسنيو ته راجع کړم. زه فکر کوم چي دا خبري رسنۍ دي چي يوازي په ولسمشريزه ټاکنو باندي زور اچوي او نه په ولايتي ټاکنو باندي، موږ له خبري رسنيو څخه غواړو چي مخکي راشي، خپل نقش ادا کړي او خلکو ته دا خبر ورسوي چي ولسمشريزه او ولايتي ټاکني دواړه به کيږي. د ټاکنو خپلواک کميسيون ۱۴۰۰ تنه د روزني ښوونکي لري او په ټول هيواد کي له تعليمي موادو او چارټونو سره خلکو ته ښيي چي د رايي اچوني پروسه څنګه ده، کومي ټاکني کيږي او ولي! او دوې دواړه ټاکني تر پوښښ لاندي نيسي.
په عين وخت کي د ټاکنو خپلواک کميسيون اوس په پراخه پيمانه تلويزيوني او راديويي کمپاين په ټول هيواد کي پيل کړی دی چي دغه مساله ښکاره کړه. مګر تاسي حق لري په دې برخه کي بايد ډير نور څه هم وشي.
موږ ژمنه کوو چي خپلي هڅي نوري هم ګړندی کړو او د دې يقين پيدا کړو چي هر يو رايه ورکوونکی چي د رايي ورکوني حق لري په دې پوه وي چيرته او څنګه بايد رايه ورکړي..
په عين وخت کي موږ له رسنيو څخه غواړو چي خپل مسووليت له موږ سره شريک کړي او په ټول هيواد کي رايي اچوونکو ته ورسيږي.

**لوک ميتيو، د آزادی د اخبار څخه:** يوناما په ټاکنو کي د جنګ سالارانو په باب څه فکر کوي؟ ايا تاسي دوی تقويه کوئ؟ ايا د دې خطر شته چي د دوي په ذريعه د ټاکنو پايلي بدلي شي؟

**يوناما، عليم صديق:** موږ نه شو کولای چي د مشخصو نوماندانو په باب په تفصيل سره خبري وکړو. خو خاص استازی په دې باب ډيري ځرګندې خبري کړې دي او هغه دا چی که موږ غواړو چي پرمختګ وکړو په دې ملک کي موږ ډير قابلو سياست مدارانو ته او لیږ داسي کسانو ته اړتيا لرو چي زورور او جنګ سالاران وي. د جګړی وخت پای ته رسيدلی دي او له دې ټاکنو څخه وروسته موږ بايد خپلی هڅی د بياجوړونی لپاره چټکی کړو.

**افغانستان ټايمز:** دوه برخي، لومړی برخه د څارونکو په باب ده. تاسي وويل چي دوی به د دې پروسی څخه نظارت وکړی. دا داسي وخت دی چي د هيواد په ځينو برخو کي امنيتي وضعه خرابيږي. که دغه خلک هغو سيمو ته ور نه شي کيدای شي چي جعل/ټګي وشي ځکه چي له څارني څخه به په امن کي وي، دويمه برخه د هغو انديښنو په باب ده چي د ښځو د حقونو مدافع سازمانونه يي لري او وايي چي د ښځو ونډه به په دې ټاکنو کي کمه وي. زه غواړم د يوناما په دريځ وپوهيږم چي ايا په ټاکنو کي د ښځو لیږ ونډه اخيستنه به د ټاکنو د مشروعيت لپاره زيان و نه لري؟

**يوناما، عليم صديق:** لکه څنګه چي سالارزی مخکي وويل، يو شمير اقدامات شته چي د دې کال د ټاکنو مشروعيت خوندي ساتي. څارونکی د دغو اقداماتو يوازي يوه برخه ده. د امنيتي وضعي حقيقت چي موږ ورسره مخامخ يو مانا دا ده چي ځينو برخو ته لاس رسي به د نړيوالو څارونکو لپاره ګرانه وي. خو دا د دې مانا نه لري چي دې سيمو ته نور څارونکی- ملي افغان څارونکي هم نه شي ورتلای. دا هم بايد له ياده و نه باسو چي د ټاکنو خپلواک کميسيون هم د څارني نقش لري او په دې برخو کي به حضور ولري. د نوماندانو استازی به هم ددې اجازه ولري چي په دې سيمو کي د رايو شميرل وڅاري.

دښځو مساله- يوناما د دې پروسې د لومړيو وختونو څخه د ښځو د لاز يات ګډون لپاره تبليغ کړې دى. افغانستان د ډيرو ښو رهبرانو مستحق دى او کيداى شي چې ورته هغه پيدا شي او د دې مانا دا ده چې د نارينه وو او ښځو دواړو ګډون باوري کړاى شي. موږ ددې واقعيت له امله هڅول شوي يو چې د ولايتي شوراګانو لپاره د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په پرتله زياتې ښځينه نوماندانې دي. او موږ همدارنګه په دې هڅول شوى يو چې د جمهوري رياست د څوکۍ لپاره دوه ښځينه نوماندې دي. او د ۴،۵ ميليونه رايه ورکوونکو له جملې څخه چې د لومړى ځل لپاره د سږ کال د ټاکنو لپاره يې نومونه ثبت کړى دي، زه باور لرم چې د دغو نوو رايه ورکوونکو له جملې څخه ۴۰ سلنه يې ښځينه رايې ورکوونکې دي. دا ټول هڅوونکې نښې دي چې د ښځو د ګډون په برخه کې دي خو د زياتې خوشبينۍ لپاره ځاى نشته او موږ غواړو چې هره افغان ميرمن چې د دموکراتيک اساسي قانون له مخې د رايې حق لري څو د سږ کال په انتخاباتو کې برخه واخلي. لکه د ټاکنو د خپلواک کميسيون د هلو ځلو د يوې برخې په توګه دا ده چې بايد ښځينه نفوس ته رسيدنه شتون ولري، زه خبر يم چې هغه د مدنې زده کړو ښځينه روزونکى کارکوونکې لري چې د کليو او محلي ټولنو په کچه کار کوي څو په دې اړه د خبرتيا کچه لوړه کړي او په دې توګه د ښځينه برخه والو شميره زياته کړي. او دا چې دغه هلې ځلې به د افغاني ټولنې په کچه په کليوالو سيمو کې ادامه ولري څو چې د انتخاباتو ورځ را ورسيږي، څو په دې توګه موږ د نارينه او ښځو دواړو د ګډون کچه د اګست په ۲۰ نېټه لوړه کړو.

**کليد ګروپ:** دا وويل شول چې د افغانستان حکومت د نړيوالو همکارانو په مشوره هڅه کوي څو د ځينو هغو کسانو نومونه دهغه تور لست څخه وويستل شي چې د ۱۲۶۷ په تور لست کې دي. د کومو شرايطو له مخې به دغه نومونه د تور فهرست څخه ايسته شي چې د افغانستان د دولت د وړانديز پر بنسټ وي او يا دا چې نړيواله ټولنه به دغه اعلاميه ولري.

**يوناما، عليم صديق:** دا پريکړه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ه او يقينى ده چې دا يوه داسې پريکړه په دې کچه نه ده چې اوس شوې وى. د ملګرو ملتونو د يو غړى په توګه او د ملګرو ملتونو د ۱۹۲ غړو له جملې څخه افغانستان دا حق لري چې د امنيت شورا ته يوه ځانګړې غوښتنه وليږي. د افغانستان دولت د دې لپاره مختاره او مستقل دى څو دا ډول غوښتنه وکړي.

**د آشنا ټلويزيون:** دغه پوښتنه دوې برخې لري. آيا ملګري ملتونه په دې يقين لري چې په ټاکنو کې به ټګي و نه شي؟ دويمه پوښتنه دا ده، د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا خاص استازى ريچارډ هولبروک ويلى دى چې له ټاکنو څخه وروسته به له طالبانو سره مخامخ خبرې کوي. په دې اړه د يوناما دريځ څه دى؟

**يوناما، عليم صديق:** موږ هيڅکله هم نه دې ويلي چې په دې ټاکنو کې به هيڅ ټګي نه وي، موږ وويل- او تاسې دا خبره په دې مطبوعاتي کنفرانس کې واوريده- چې يو کم شمير خلک به تل فعاليت کوي چې د خلکو ديموکراتيکې ارادې ته زيان ورسوي. موږ هميشه په دې باندې زور اچولى دى چې د ټاکنو اعتبار خوندى پاتې شي سره د دې چې د افغانستان له خلکو سره د ټګۍ هڅې کيږي. او د ټاکنو لپاره د افغان چارواکو له خوا بايد هر اقدام وشي چې دا ډول هڅې کشف، منع، او په قانوني ډول تعقيب کړي. او تاسې يى اوري چې نړيواله ټولنه د ملګرو ملتونو له لارې له افغان چارواکو سره د دوي په دې اقداماتو کې مرسته کوي او دغه راز د مشاهد په حيث نقش به ولري څو افغانان د دې کال دټاکنو په رښتينوالى باندې باور پيدا کړي. او دغه هڅې بايد په شفاف ډول ترسره شي. په کومو ځايونو کې چې موږ د انديښنې خبرې موندلې دي، موږ هغه تاسې ته په ګوته کړې دي او موږ به دې کار ته د ټاکنو تر ورځې پورې ادامه ورکړو.

د طالبانو په اړه زه فکر کوم چې د ملګرو ملتونو دريځ له څه وخت راهيې په دې اړه څرګند دى. د عمومي منشي خاص استازى هغه ضرورت ته اشاره کړې ده چې له هغو طالبانو سره ووينو چې جنګ ته ادامه ورکوي او خاص استازى دا هم ويلى دى چې له ټاکنو څخه وروسته به د هر ټاکلى حکومت مهمه دنده هم دا وي، خو هره دا ډول پروسه بايد د افغانستان اساسي قانون ته احترام وکړي او هغه پرمختګونه وساتي چې افغانستان ليدلى دى او د هغه بين المللى قانون احترام وکړي چې افغانستان منلى دي.

**اى ايف پى خبرى آژانس:** په جنوب کې ځينې سيمې دي چې دې وروستيو وختونو کې د بهرنيو امنيتي ځواکونو له خوا په امن کې شوې دي. آيا تاسو فکر کوئ چې اوس ددې وخت دى چې دواړه کار ترسره شي يو دا چې خلک او بل دولتي دستګاه د رايې ورکوونې د پروسې لپاره د څو اونيو په ترڅ کې چمتو کړاى شي. او که چيرې دا ونه شي نو دا به د انتخاباتو پر مشروعيت څه ډول اغيزه ولري؟

**یوناما، علیم صدیق:** د انتخاباتو د ټولو محلاتو د ارزوني کار جریان لري. هیڅوک باید دا وړاندوینه و نه کړي چي آیا د رایو مرکز به پرانیستي وي او یا نه، ځو پوري چي ارزوني بشپړي شوي نه وي. په دي وخت کي زموږ پاملرنه دي ته ده چي د ټاکنو خپلواک کمیسیون افغان امنیتي ځواکونو، ایساف او محلي ټولنو ته د هر ډول ملاتړ وړاندیز وکړو او دا باوري کړو چي هغوي ددي امکان لري چي د انتخاباتو پر ورځ هر څومره چي زیات کیدلای شي د ټاکنو مرکزونه پرانیستل شي. او بیا موږ د افغان وګړو څخه غواړو څو هغو کسانو ته اجازه ور نه کړي څوک چي د خشونت د لارې تهدیدونه کوي څو د خلکو څخه دا امکان واخلي چي په دغو مهمو ټاکنو کي خپله رایه وکاروي.

**هشت صبح:** زما پوښتنه د ټاکنو د امنیت په اړه ده. لکه چي تاسو خبر یاست امنیتي عملیات د هیواد په ځینو برخو کي پیل شوي دي خو نتیجي او پایلي یي د قناعت وړ نه وي. که چیري حالت د ټاکنو تر نیټي بدل نه شي نو څنګه به ټاکني ترسره شي او دوهمه دا چي آیا تاسو ددي توقع لرئ چي امنیتي حالت به په دغو سیمو کي ښه شي؟

**یوناما، علیم صدیق:** ما دي پوښتني ته څو څو ځله ځواب ویلی او غواړم بیا یي تکرار کړم. زموږ ټولي هلي ځلي په دي متمرکزي دي چي موږ وکړای شو د رایي ورکووني ډیر مرکزونه پرانیستل شي چي کیدلای شي د انتخاباتو تر ورځي دا کار وشي. د وضعي د واقعیت څخه جوتیږي چي په یقین سره داسي ساحي به وي چي هلته به ستونزي ډیري زیاتي وي.
خو د دي هر څه سره زموږ زغم او اراده قوي کیږي څو هر ډول کوښښ د برې لپاره ترسره شي. زما په اند دا به ناسمه وي چي د وړاندي څخه وواېو چي آیا د را یي ورکووني مرکز به پرانیستي وي، ځکه چي د هغه د پرانیستني ساتني لپاره ټول راټول شوي دي.

مننه